د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 451**

( 12 عقرب – 14 عقرب 1403 هـ ش)

## د ټرمپ او کاملا هریس د بهرنیو سیاستونو پرتلیزه څېړنه




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د ټرمپ او کاملا هریس د بهرنیو سیاستونو پرتلیزه څېړنه ........................................ 3
- ۱- افغانستان ........................................................................... 4
- ۲- منځنی ختیځ ........................................................................ 6
- ۳- روسيې- اوکراين جګړه ........................................................ 11
- ۴- چين ................................................................................. 12
- پایله .................................................................................. 14
- وړاندیزونه ........................................................................... 14
- مأخذونه .............................................................................. 15


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د ټرمپ او کاملا هریس د بهرنیو سیاستونو پرتلیزه څېړنه

## سریزه

په امریکا متحده ایالاتو کې د جمهوري ریاست ټاکنې به د روان ۲۰۲۴ز.کال د نومبر پر ۵مه نېټه د سې شنبې په ورځ ترسره شي او بريالی نوماند به د جمهوري ریاست چارې د ۲۰۲۵ز. کال په جنوری میاشت کې ترلاسه کړي. په امریکا متحده ایالاتو کې جمهور رئیس د انتخاب کوونکو بورډ د رایو پر بنسټ ټاکل کېږي، انتخاب کوونکو بورډ۵۳۸ رایې لري[1] او هر نوماند چې د دې بورډ ۲۷۰ رایې ترلاسه کړې هغه بريالی ګڼل کېږي.[2] سره له دې چې د متحده ایالاتو د ټاکنو پروسه پېچلې او جلا بحث ته اړتیا لري، خو په لنډ ډول به ووایو چې د متحده ایالاتو هر ایالت ځانګړي الیکټرز (انتخابوونکي) لري او د انتخاباتو پرمهال د هر نوماند الیکټرز مشخص وي چې د نوماند سیاسي ګوند يې ټاکي، کله چې په عمومي ټاکنو کې د ایالت وګړي ولسمشر او مرستیال ولسمشر ته رایه کاروي، دا داسې ده لکه د هغوی الیکټرز ته چې رایه کاروي. اکثره ایالاتونو کې چې کله یو نوماند ډېرې رایې یوسې چې هغه ته State's popular vote وایي، نو نوموړی نوماند د هغه ایالات ګټونکی اعلانیږي او د هغې ایالات ټول الیکټرز د دغه نوماند له ډلې انتخابیږي، چې دې ته "winner-take-all" اصطلاح استعمالیږي، بیا له ټاکنو وروسته د ټولو ایالاتونو الیکټرز راټولیږي چې دې ته انتخاب کوونکو بورډوایي او اړونده نوماند ته خپله رایه په رسمي ډول معلوموي او کله چې هر نوماند ۲۷۰ الیکټرز پوره کړل، هغه ګټونکی اعلانیږي.[3] کله چې یو نوماند بريالی شي او په جنوری میاشت کې لوړه وکړي، نو له هغې وروسته په رسمي ډول خپله بهرنی پالیسي_ اعلانوي، خو د ټاکنو د کمپاین پرمهال هم دوی ولس ته د خپل بهرني سیاست ځینې مهم اړخونه بیانوي چې همدغه اړخونو بیانول او تحلیل زموږ د دې لیکنې موخه ده.

د جوسف فرنکېل (Joseph Frankel) په نظر، بهرنی سیاست د یو دولت پرېکړې او اعمال دي د بل دولت په مقابل کې.[4]

د بهرني سیاست د پرېکړو نیولو پر مهال ځیني لاملونه شته چې پر دغو پرېکړو اغېز لري او دا لاملونه په دوه برخو وېشل کېږي: یو، بهرني لامحدود لاملونه دي او بل داخلي لاملونه. په داخلي لاملونو کې یو لامل د یو هېواد د رهبر یا جمهور رئیس شخصیت او کرکټر دی چې د بهرني سیاست پر جوړونه اغېز لري. د یوې ډلبندۍ له مخې رهبران په دوه ډلو وېشل کېږي:

۱- «Hawks» رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصیت او طبیعت جدي وي، ژر غصه کېږي او د خپلو پرېکړو په پلي کولو کې ډېر حساس وي. د دې ډول رهبرانو بهرنی سیاست هم یرغلیز وي لکه هټلر، موسولویني، جورج بوش، ټرمپ او نور...

۲- «Doves» رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصیت او طبیعت نرم او ارام وي، نو د دې ډول رهبرانو بهرنی سیاست هم محافظه‌کارانه وي، لکه اوباما، امانویل مکرون، جوبایډن او شي جېنپنګ.[5]

د پورتنۍ ډلبندۍ له مخې ویلای شو چې معمولاً د ډیموکراتانو رهبران تر ډېره «Doves» دي، لکه بارک اوباما، جوبایډن او بل کلنټن او د جمهوري غوښتونکو رهبران اکثره «Hawks» دي، لکه جورج بوش، جورج ډبلیو بوش او ټرمپ.

کاملا هریس په ۱۹۶۴ز.کال د اکتوبر پر ۲۰مه نېټه د امریکا متحده ایالاتو په کلفورنیا ایالات کې د یوې هندی مهاجرې مور خخه زېږېدلې ده. هریس په حقوقو کې لوړې زده کړې کړې. نوموړې په ۲۰۰۳ز. کال کې د سن



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

فرانسسکو ښارنواله شوه، په ۲۰۱۰ز. کال کې لومړنۍ ښځه وه چې د کلفورنیا ایالت انتخابي لویه ښارنواله وټاکل شوه، په ۲۰۱۶ز. کال کې د کلفورنیا ایالت څخه د ټاکنو له لارې د سنا غړې شوه او په ۲۰۲۱ز. کال جنوری میاشت کې لومړنۍ ښځه شوه چې د امریکا متحده ایالاتو د جمهور رئیس د مرستیالې په توګه یې لوړه وکړه او اوس د امریکا متحده ایالاتو د جمهوري ریاست ټاکنو ته نوماند ده او که دا ټاکنې وګټي، نو لومړنۍ ښځینه امریکایي جمهور رئیسه به شي.[6]

ډونالډ ټرمپ په ۱۹۴۶ز.کال د جون پر ۱۴مه نېټه په نیویارک کې زېږېدلی دی. نوموړي له پنسلوانیا پوهنتون څخه په سوداګرۍ برخه کې لوړې زده کړې کړي. ټرمپ د خپلې سوداګرۍ سفر د پلار د معاملاتو د لارښوونې دفتر څخه پیل کړ، له هغې وروسته ټرمپ د هوټلونو، پلازو او ساختماني کارونو په برخه کې خپل کاروبار پیل کړ او نن ورځ د امریکا متحده ایالاتو د څو میلیاردرانو له ډلې څخه ګڼل کېږي. ټرمپ د ۲۰۱۶ز. کال په ټاکنو کې هیلري کلنټن ته ماتې ورکړه او د امریکا متحده ایالاتو لومړنی میلیاردر جمهور رئیس شو.[7]

په دې تحلیلي لیکنه کې به هڅه وکړو چې د افغانستان، منځني ختیځ، روسیې-اوکراین جګړې او چین په اړه د ټرمپ او کامالا هریس بهرني سیاستونه پرتله کړو.

## ۱- افغانستان

داسې معلومېږي چې افغانستان د ټرمپ او هریس د بهرني سیاست د راتلونکي پلان مهمه برخه نه ده، ځکه تراوسه چې څومره هم د ټرمپ او کامالا هریس غونډې شوي دي او یا هم د دوی ترمنځ مناظرې شوي، هلته دوی په خپل بهرني سیاست کې د افغانستان په اړه خپل راتلونکی بهرنی سیاست نه دی بحث کړی، یعنې دوی په دې هېڅ نه دي غږېدلي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له حکومت سره به څه ډول برخورد کوي، ایا له دوی سره به د تعامل لاره خپلوي که د تقابل؟ او که اوسني سیاست ته به مخه کوي.[8] دوی یوازې په خپل بحثونو او مناظرو کې افغانستان د یو او بل د ملامتولو لپاره کارولی دی. دواړه نوماندان په دې قانع دي چې له افغانستان څخه په دې ډول وتل د امریکا متحده ایالاتو ناکامي وه. ټرمپ دا ناکامي د جوبایډن او کامالا هریس پر حکومت اچوي او وایي چې د دوی د حکومت پرمهال وتل سم مدیریت نشو او له امله یې د وتلو پرمهال زموږ ۱۳ عسکر مړه شول[9] او د ناکامۍ پړی د امریکا متحده ایالاتو په غاړه کې واچول شو. کامالا هریس بیا وایي چې له افغانستان څخه د وتلو پرېکړه د ټرمپ د حکومت وه، همدې ټرمپ طالبان کېمپ ډیوډ ته راوغوښتل، همده ورسره نهایي مذاکرات وکړل او بالاخره همده ورسره د دوحې تړون لاسلیک کړ چې په هغې کې د امریکایي پوځیانو وتل شامل وو، موږ خو یوازې د ده او طالبانو ترمنځ تړون عملي کړی دی.

سره له دې چې دواړو نوماندان د افغانستان په اړه ځانګړې بهرنۍ پالیسي نه ده تشریح کړې، خو څېړونکي په دې نظر دي چې که هر نوماند واک ته ورسېږي د افغانستان په اړه به د امریکا متحده ایالاتو په اوسنۍ پالیسۍ کې ډېر ستر بدلون رانشي، یعنې امریکا متحده ایالات به بیا هم له یوې خوا اسلامي امارت د بشري حقوقو د نقض،[10] له نړیوالو تروریستي ډلو سره د اړیکو او همه شمول حکومت د نه رامنځته کېدو له امله


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

غندي او فشارونه به پرې راوړي او له بلې خوا به ورسره د دوحې په څېر ناستو له لارې تعامل کوي تر څو دغه خاوره يو ځل بيا د ترهګرو په ځاله بدل نشي او له بلې خوا په مطلق ډول د سيمه ييزو قدرتونو لکه چين او روسيې غېږ ته ونه غورځېږي.[11] يعنې کېدای شي د افغانستان د مسئلې بشپړ حل د متحده ایالاتو د يو بل ولسمشر څلور کلنه دوره هم ونيسي، ځکه متحده ایالاتو بهرنی سياست دا دی چې اسلامي امارت بايد د ټاکنو له لارې خپل مشروع حکومت رامنځته کړي، نجونو ته د زده کړو او کار زمينه برابره کړي، د ترورېستي ډلو په لمنځه وړلو کې جدي اقدامات وکړي او د افغانستان خاوره کې تروريستانو ته ځای ورنکړي، د چين او روسيې اړوند د دوی اندېښنو ته ځواب ووايي، نړيوالو مؤسسو ته په افغانستان کې د کار پراخې زمينې برابرې کړي او د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره به د دوحې په څېر غونډو څخه کار اخلي. موږ فکر کوو چې د دې کارونو او موخو لاسته راوړل به د يو بل جمهور رئيس دوره هم په بر کې ونيسي او شايد له دې هم زيات، ځکه اسلامي امارت په پورته يادو شويو مسايلو کې د ځينو منلو ته هيڅ تيار نه دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## ۲- منځنۍ ختیځ

دغه سیمه د ټرمپ او کاملا هریس د ټاکنیز کمپاین د بحث مهمه موضوع وه او د دوی بهرنۍ سیاست په دې اړه تر ډېره ځرګند شوی دی، دلته به د فلسطین-اسرائیل، ایران، سعودي عربستان، سوریه، یمن، عراق او ترکیې په اړه د دغه دواړو نوماندانو بهرنۍ سیاستونه مطالعه کړو.

### فلسطین- اسرائیل



- کاملا هریس د دوه دولتونو د حل پلوی ده.
- نوموړې په غزه کې د ملکیانو وژل غندلي، خو ترڅنګ یې د اسرائیلو له ځان څخه د دفاع حق هم منلی.
- هریس وایي: زموږ حکومت به اسرائیلو ته هغه ټولې اسانتیاوې برابرې کړي تر څو هغوی له ځان څخه پرې دفاع وکړای شي، په ځانګړي ډول د ایران او د هغوی د نیابتي ډلو پر وړاندې.
- د جګړې پای ته رسول مو اولویت دی او هڅه کوو چې ژر تر ژره اوربند لاسلیک شي.
- نوموړې له جګړې وروسته د غزې په اړه هم خپل پلان په درېو برخو کې شریک کړی دی:

الف: د غزې بیارغونه

ب: د غزې امنیت د محمد عباس په مشرۍ فلسطیني اداري ته سپارل چې حماس په کې نه وي.

ج: په غزه کې حکومتي سیستم د فلسطیني اداري تر مشرۍ لاندې واکمنول.



- ټرمپ د هریس په پرتله د فلسطین او په ځانګړي ډول د حماس په اړه سخت دریځ لري، نوموړی وایي: که زه جمهور رئیس وی، د ۷ اکتوبر برید به هیڅکله رامنځته شوی نه وی.
- نوموړی په یو وینا کې وایي: هیڅ ولسمشر له اسرائیلو او امریکایي یهودانو دومره دفاع نه ده کړې لکه ټرمپ چې کړې ده.
- کله چې د فلسطیني دولت د جوړېدو په اړه ترې پوښتنه وشوه، نو هغه وویل: ګورو به! له دې معلومیږي چې نوموړی د هریس په څېر د دوه دولتونو په حل باور نه لري، که یې لرلای، نو په دې اړه به یې خپل دریځ ځرګند کړی وی.
- ټرمپ ته نږدې خلک لکه د هغه زوم او د نوموړي د حکومت پرمهال په جرمني کې سفیر او استخباراتو سرپرست ریچرډ ګرېنوال ټرمپ ته د وړاندیز په توګه وایي: د غزې خلک باید ټول مصر او یا هم جنوبي اسرائیل اَلنَّقَب سیمې ته ولېږل شي.
- په ۲۰۲۴ جولای کې ټرمپ، نتن یاهو ته وایي: هر څه چې کوې ترسره یې کړه او دا جګړه پای ته ورسوه.
- په ۲۰۱۸ز. کال کې ټرمپ د امریکا متحده ایالاتو سفارت له تل ابیب نه بیت المقدس ته انتقال کړ او په همدې کال کې یې د ګولن ځوکې د اسرائیلو تر حاکمیت لاندې په رسمیت وپېژندلې.
- په ۲۰۱۸ز. کال کې ټرمپ د هغو نړیوالو ادارو تمویل بند کړ چې هغوی فلسطیني مهاجروسره مرستې کولې.

د فلسطین-اسرائیل د قضیې په اړه که پورتنیو پرتلیزو ټکو ته وګورو، نو دوه موضوعات په ځانګړي ډول د یادولو وړ دي، لومړی، دواړه نوماندان او په عمومي ډول د امریکا متحده ایالاتو حکومت د اسرائیلو پلوي او دفاع

کوي. (دا چې دا دفاع ولې کېږي خپل دلایل لري چې دا يې د بحث ځای نه دی). دويم، په دواړو نوماندانو کې بيا د ټرمپ دريځ نسبتاً هريس ته ډېر سخت دی او که ټرمپ واک ته راځي، نو دا قضيه به ورسره نوره هم پېچلې شي.

## ایران



- هريس د ايران سره د اتومي پروګرام پر سر ترسره شوي برجام ټړون پلوی وه او اوس هم وايي چې هغه کوي هغه ټړون بيا راژوندی کړي. نوموړی له دې ټړون څخه د ټرمپ وتل غير عاقلانه او د امريکا متحده اياﻻتو ملي امنيت ته ګواښ ګڼلی.
- هريس د بشري حقوقو په اړه د ايران دريځ سره مخالفت لري او وايي چې هڅه به کوي چې په ايران کې د بشري حقوقو د تأمين لپاره کار وکړي.
- داسي معلوميږي چې د ايران په اړه د هريس بهرنی سياست به د جوبايډن د اوسني سياست سره تر ډېره توپير ونلري او دی به هم د اوس په خبر پر ايران او په ځانګړي ډول د دې هېواد د تېلو پر صادراتو بنديزونو ته دوام ورکړي.



- د ايران په اړه د ټرمپ بهرنی پاليسي سخت دريځه ده.
- همدې ټرمپ د خپل جمهوري رياست په لومړنی دوره کې د اوباما له لوري له ايران سره لاسليک شوی د برجام ټړون لغوه کړ.
- ټرمپ د ايران په اړه خپله بهرنی پاليسي په لاندې ډول اعلان کړې ده:

الف: اتومي ټکنالوژۍ ته د ايران د لاسرسی مخنيوی؛

ب: د بنديزونو دوام؛

ج: په سيمه کې د ايران مخالف دولتونو او د امريکا متحده اياﻻتو متحدينوسره امنيتي مرستې کول؛

د: د ايران په داخل کې د موليانو په خلاف ايراني انقلابيونو ملاتړ؛

هـ: د بهرنيانو او په ځانګړې ډول د امريکايي وګړو له نيولو څخه د ايران راګرځول؛

ز: د ايران له لوري پر امريکا متحده اياﻻتو او متحدينو باندې يې د سايبري بريد څخه مخنيوی.

- ټرمپ وايي زما په دوره کې پر ايران سخت بنديزونه وو، خو جوبايډن ياد بنديزونه راکم کړل او اوس ايران ۳۰۰ ميليارده ډالر لري چې په منځنی ختيځ کې پرې نيابتي ډلې تمويلوي.
- ټرمپ وايي دی به هڅه وکړي چې چين تر فشار لاندې راولي تر څو ايراني نفت وانخلي.

له پورتنی پرتلې معلوميږي چې د ايران په اړه د ټرمپ دريځ نسبت کاملا هريس ته ډېر سخت دی او د ټرمپ راتګ به د ايران لپاره ښه زيری نه وي.

## سعودي عربستان



- په ۲۰۱۸ز. کال کې کله چې هریس د سنا غړې وه، نوموړې د سعودي عربستان خلاف هغه مسوده لاسلیک کړه چې په هغې پر سعودي عربستان د وسلو پېرل له دې امله محدود شوي وو چې سعودي عربستان د یمن په کورنۍ جګړه او د ژورنالیست جمال خاشقچي په وژنه کې لاس لري.
- په ۲۰۱۹ز. کال کې هریس پر حکومت غږ وکړ چې له سعودي عربستان سره پر اړیکو له سره غور وکړي او ادا اړیکې په داسې ډول تنظیم کړي چې امریکايي ارزښتونه او ملي ګټې په کې په سم ډول خوندي شي، یعنې موخه یې دا وه چې په دومره کچه دا اړیکې باید نږدې نه وي.
- همدارنګه د جوبایډن په دوره کې منځنۍ ختیځ ته د امریکا متحده ایالاتو د ایل این جي ګاز د صادراتو په برخ کې ځینې محدودیتونه موجود دي چې له امله یې د سعودي عربستان د ارامکو او نور شرکتونه د ګوانښ سره مخامخ شوي او داسې معلومیږي چې هریس به هم دې سیاست ته مخه کړي.



- ټرمپ غواړي چې د سعودي عربستان او اسرائیلو ترمنځ نارملایزیشن تړون ته لاره هواره کړي او دغه تړون رامنځته کړي.
- د ټرمپ زوم د سعودي عربستان له حکومت سره په سوداګرۍ برخه کې نږدې اړیکې لري او داسې معلومیږي چې ټرمپ به له سعودي عربستان سره نورې هم خپلې اړیکې نږدې کړي.
- ټرمپ به په بریالي کېدو سره د امریکا متحده ایالاتو د ایل این جي ګاز د صادراتو اړوند ټول هغه محدودیتونه لرې کړي چې له امله یې د سعودي عربستان شرکتونه له ګواښ سره مخامخ شوي دي.
- ټرمپ په خپله تېره دوره کې هم له سعودي عربستان سره نږدې اړیکې درلودې او د دې نږدې اړیکو یو ستر لامل د ایران په اړه د ټرمپ سخت دریځه پالیسي وه او داسې معلومیږي چې که ټرمپ بریالی شي، نو یو ځل بیا به دا اړیکې په سیاسي او اقتصادي دواړو برخو کې نږدې شي.

د سعودي عربستان په اړه د دواړو نوماندانو له دې پرتلې معلومیږي چې ټرمپ دغه هېواد ته د نږدې کېدو سیاست لري او کاملا هریس بیا له دغه هېواد سره د ډېرو نږدې اړیکو لېواله نه ده او هڅه به کوي چې دغه اړیکې د امریکایي ګټو په چوکاټ کې محدودې کړي.[12]

## ترکیه



- هریس به په ترکیه کې د بشري حقوقو ستونزې راپورته نه کړي، خو د ترکیې او امریکا متحده ایالاتو دوه اړخیزې اړیکې به بیا هم د ځینو ستراتیژیکو ننګونوسره مخامخ وي.
- هریس له عراق څخه امریکایي پوځیان راوباسي، چې دا به په مستقیم ډول د سوریې او عراق په امنیتي وضعیت اغېز پرېباسي او که په دغو دواړو هېوادونو کې ناامني رامنځته شي، نو دا به د ترکیې پر امنیت هم منفي اغېز وکړي.
- تمه وه چې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې په غونډه کې د ګډون پرمهال د کاملا هریس سره وګوري، خو اردوغان له دې لیدنې څخه انکار وکړ، دا هم کېدای شي چې د هریس له بریا وروسته د دواړو هېوادونو پر اړیکو اغېز پرېباسي.



- ټرمپ به هم د بشري حقوقو ستونزه راپورته نه کړي.
- ټرمپ هم له عراق څخه د پوځیانو د ویستلو ملاتړی دی چې له امله به یې ترکیې ته امنیتي ستونزې پېداشي.
- همدارنګه له اسرائیلو څخه د ټرمپ جدي ملاتړ او له فلسطین څخه د اردغان جدي ملاتړ به هم د دواړو ترمنځ په اړیکو کې ستونزې رامنځته کړي.
- د ایران په اړه د ټرمپ جدي پالیسي او په دغه هېواد د قوي بندیزونو لګول به هم د ترکیې او امریکا متحده ایالاتو پر اړیکو منفي اغېز وکړي، ځکه دا بندیزونه د ایران او ترکیې د سوداګرۍ او انرژۍ اړیکې اغېزمنوي.
- ټرمپ په خپله تېره دوره کې ځینې داسې قدمونه اخیستي وو چې له امله یې د ترکیې اقتصاد له ستونزو سره او اردوغان له ننګونوسره مخامخ شوی و.

ټرمپ او هریس دواړه یمني حوثیان ترهګریزه ډله ګڼي، البته هریس په یمن کې د سعودي عربستان له نظامي عملیاتو څخه د امریکا متحده ایالاتو د ملاتړ سره مخالفه ده، خو ټرمپ بیا په یمن کې د سعودي عربستان د نظامي عملیاتو څخه د امریکا متحده ایالاتو له ملاتړ سره موافق دی.

د سوريې په اړه د هريس پالیسي دا ده چې هلته امريکايي عسکر پاتې شي تر څو د داعش سره مقابله وکړي او د امريکا متحده ايالاتو امنيت ته ګواښ لمنځه يوسي، همدارنګه د سوريې له خلکو سره بشردوستانه مرستې وکړي او له عدالت او ډيپلوماټيک فعاليتونو څخه ملاتړ وکړي، خو ټرمپ پالیسي دا ده چې امريکايي عسکر له ټولو هغو نه ختميدونکو جګړو څخه راوباسي او په تېره دوره کې ټرمپ اعلان وکړ چې له سوريې څخه به امريکايي عسکر راوباسي او داسې فکر کېږي چې که ټرمپ بريالی شي، نو له سوريې څخه به امريکايي عسکر راوباسي او سوريه کې به امريکايي جګړه پای ته ورسوي.

د عراق په اړه به هريس د اوسني بايډن حکومت پالیسي تعقيبوي، بايډن له عراقي حکومت سره دوه اړخيز تړون لاسليک کړی چې له مخې به يې امريکايي عسکر له عراق څخه په دوه پړاوونو کې وځي، لومړی پړاو به يې په ۲۰۲۵ سپټمبر کې وي او دويم پړاو به يې په ۲۰۲٦ وروستيو کې پيل شي. ټرمپ هم په عراق کې د امريکايي عسکرو له کمولو سره موافق دی.[13]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## ۳- روسيې- اوکراين جګړه

دغه جګړه بله هغه مهمه موضوع ده چې د هريس او ټرمپ د مناظرې او بهرني سياست مهمه برخه تشکيلوي.

**روسيې- اوکراين جګړه**



- هريس په دې جګړه کې له اوکراين څخه ملاتړ کوي، د دوی اوسني حکومت تراوسه اوکراين ته ۵۵.۷ ميلیارده ډالر امنيتي او ۱۷۵ ميلیارده ډالر اقتصادي مرسته ورکړې ده او هريس وايي چې دی به دغو مرستو ته ادامه ورکړي.
- هريس وايي له روسيې سره د اوکراين د سولې خبرو کې دوی کار نه لري دا پرېکړه د اوکراين خپله ده.
- هريس وايي د دوی حکومت به اوکراين ته اجازه ورنکړي چې په مستقيم ډول پر روسيه بريد وکړي، ځکه دا کار به امريکا متحده ايالات او روسيه په مستقيمه جګړه کې دخيل کړي.
- پر روسيه به د امريکا متحده ايالاتو اقتصادي، ټکنالوژيکي او انرژۍ برخه کې بنديزونه دوام وکړي.
- د ناټو اتحاد د اوکراين د جګړې له امله لا قوي او متحد شوی او د دوی حکومت به د دې جګړې څخه د دې اتحاد په قوي کېدو لا ګټه واخلي.



- ټرمپ وايي که زه ولسمشر وی، روسيې به هيڅکله پر اوکراين بريد نه وی کړی.
- ټرمپ وايي که زه ولسمشر شم په ۲۴ ساعتونو کې به دا جګړه پای ته ورسوم.
- ټرمپ وايي د روسيې او اوکراين ترمنځ به د سولې يو ټرون رامنځته کړي چې له لارې به يې دغه جګړه پای ته ورسېږي.
- ټرمپ وايي پر روسيې لګېدلي ټول بنديزونه به لرې کړي او دا کار به د اوکراين او روسيې د سولې د ټرون برخه وي.
- ټرمپ پر بايډن سختې نيوکې کوي چې ولې اوکراين ته په ميلیاردونو ډالر مرستې لېږي. ټرمپ وايي که زه ولسمشر شوم پر اوکراين به ټولې مرستې ودروم او که ځينو مرستو ته اړتيا پيښه شي، نو هغه به د قرض په ډول ورکړم چې اوکراين يې بايد راتلونکې کې بېرته امريکا متحده ايالاتو ته ورکړي.
- د ټرمپ مرستيال وېنس بيا له ټرمپ څخه هم زيات د اوکراين مخالف دی. هغه وايي پر اوکراين بايد ژر تر ژره مرستې بندې شي تر څو هغوی د سولې خبرو ته اماده شي او د سولې له خبرو وروسته بايد اوکراين دايمي بېطرفه هېواد اعلان شي، يعنې اوکراين ته بايد د ناټو غړيتوب ورنکړل شي او همدا د پوټين غوښتنه هم ده.

د روسيې-اوکراين د جګړې په اړه پورته ياد شوي بهرني سياست[14] څخه داسې معلومېږي چې د ټرمپ بريا به د روسيې په ګټه وي او د هريس بريا به بيا د اوکراين لپاره ښه زيری وي.

## ۴- چين

امريکا متحده ايالات او چين د نړۍ دوه ستر اقتصادي او نظامي قدرتونه دي. د ۲۰۲۳ز. کال د معلوماتو پر بنسټ دواړه په ګډه د نړۍ ۴۳ سلنه اقتصاد او ۴۹ سلنه نظامي او دفاعي مصارف لري.[15]

ټرمپ په خپله لومړۍ دوره کې د چين سره سوداګريزه جګړه پيل کړه. له ۲۰۱۸ز. کال څخه تر ۲۰۲۰ز. کال اګست پورې يې په چينايي توکو له ۱۰ سلنه څخه تر ۲۵ سلنې پورې ګمرکي تعرف لوړه کړه. د دې تعرفې له امله يې پر امريکايي وګړو ۸۰ ميلیارده ډالر ماليه اضافه کړه، د امريکامتحده ايالاتو ناخالص عايد ۰،۲ سلنه کم شو او نړدې يو لک او دوه څلوېښت زره امريکايي وګړي بې کاره شول. ټرمپ اوس په خپل ټاکنيز کمپاين کې وايي چې که بياځلي واک ته راغی، نو پر چينايي توکو به ګمرکي تعرفه ٦۰ سلنه لوړه کړي[16]، که دا تعرفه پلي شي، نو پر امريکايي وګړو به ۵۲۴ ميلیارده ډالر کلنۍ ماليه لوړه شي، د امريکا متحده ايالاتو ناخالص عايد به ۰.۸ سلنه راټيټ شي او نږدې شپږ لکه او څلور اتيا زره امريکايان به بې کاره شي.[17]

همدارنګه ټرمپ د پورته بنديزونو ترڅنګ د چين پر ټکنالوژيکي کمپنيو په ځانګړي ډول په هواوې (Huawei) بنديزونه ولګول او هڅه يې وکړه چې په هغو هېوادونو هم دغه بنديزونه ومني چې هغوی له امريکا متحده ايالاتو سره نږدې ديپلوماتيکې اړيکې لري.

د دې ترڅنګ ټرمپ په خپله لومړۍ دوره کې له تايوان سره نږدې اړيکې وپاللې، پر تايوان يې د وسلو پېرل زيات کړل او امريکايي سمندري ځواکونو څو ځلې د تايوان له تنګي تېر شول تر څو پر چين خپل فشار زيات کړي.

همدارنګه ټرمپ د کرونا وايرس هم د فشار د يوې وسيلې په توګه استعمال کړه. ټرمپ پر چين له دې امله انتقادونه کول چې دوی د کرونا وايرس په اړه شفاف معلومات نه ورکوي او دغه وايرس انساني او اقتصادي فاجعه رامنځته کړې ده او چين بايد د دې حساب ورکړي.

که ټرمپ بيا واک ته راشي، نو د چين په اړه به يې په بهرنۍ پاليسۍ کې لاندې موضوعات شامل وي:

- يوځل بيا له چين سره سوداګريزه جګړه پيلول؛
- له تايوان څخه دفاع او دغه ټاپو پر چين د فشار د وسيلې په توګه استعمالول؛



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- پر چین د بشري حقوقو د نقض له امله انتقادونه په ځانګړي ډول په شین جیانګ ایالت کې؛[18]
- ټرمپ وايي که غواړو چې امریکایي ګټې خوندي کړو، نو چین باید تر سخت فشار لاندې ونیول شي؛
- ټرمپ وايي د چین په اړه زما پالیسي دا ده چې امریکا متحده ایالات په بشپړ ډول پر چینایي توکو له تکیې څخه راوباسم؛
- همدارنګه ټرمپ د ایغور له مسلمانانو سره کتلي او پر چین یې له دې امله سخت انتقادونه کړي چې دوی د ایغور مسلمانانو بشري حقونه نقضوي.[19]

د چین په اړه که د کاملا هریس بهرنۍ پالیسي ته وګورو، نو نوموړې تراوسه پورې د چین په اړه ډېره نه ده غږېدلې، نوموړې په یوه غونډ کې ویلي چې زه هڅه کوم چې په یووشتمه پېړه کې د چین او امریکا متحده ایالاتو روانه سیالي، امریکا متحده ایالات وګټي.[20]

څېړونکي په دې باور دي چې د چین په اړه به د هریس بهرنۍ پالیسي له بایډن څخه ډېر توپیر ونلري او امکان ډېر دی چې نوموړې د بایډن د (3C: Competition, Confrontation and Cooperation) بهرنۍ پالیسي تعقیب کړي. د همکارۍ په برخه کې کېدای شي له چین سره په هغو برخو کې کار وشي چې هغه د امریکا متحده ایالاتو د ملي ګټو غوښتنه وي. همدارنګه سیالي به روانه وي او په سوداګریزه برخه او تایوان قضیه کې د تقابل امکانات هم شته دی.

همدارنګه د چین په اړه د ټرمپ او هریس د بهرني سیاست بل توپیر دا هم کېدای شي چې ټرمپ تقریباً ټول اولویت سوداګریزې جګړې ته ورکوي، خو دا جګړه به د هریس د بهرنۍ پالیسۍ یو اړخ وي، نه ټوله بهرنۍ سیاست.

د دې ترڅنګ د هریس اوسنی د ملي امنیت مشاور فل ګورډن دی او نوموړی د ناټو له قوي ملاتړو څخه ګڼل کېږي، نو که هریس بریالۍ شي او ګورډن د ملي امنیت مشاور پاتې شي، نو کېدای شي هریس په انډوپسفیک کې خپل متحدینو لکه جاپان، هند، اسټرالیا او جنوبي کوریا سره نږدې همکارۍ ولري ترڅو د چین د نفوذ مخنیوی وکړي. همدارنګه د ګورډن په شتون سره به هریس له ناټو سره نږدې همکارۍ ولري تر څو د امریکا متحده ایالاتو امنیتي ننګونې له منځه یوسي، امریکا متحده ایالات خپل الاسکا ایالت ته نږدې او په بېلاروس کې د روسیې او چینایي عسکرو ګډ پوځي تمرینات خپل امنیت ته ګواښ ګڼي او د دې ګواښ له منځه وړلو کې به له ناټو څخه ګټه واخلي.[21]

د چین په اړه د ټرمپ او هریس په بهرنۍ پالیسي کې یو ګډ ټکی هغه د بشري حقوقو د نقض په اړه پر چین انتقاد او له دې څخه د فشار د وسیلې په توګه ګټه اخیستل دي. ځکه هریس هم د بشري حقوقو او ازادۍ


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په اړه پر چین سختې نیوکې کړې او که هریس بریالی شي، نو دغه چاره به بیا هم دوام وکړي. همدارنگه په ۲۰۱۹ز. کال کې هریس د ایغور مسلمانانو د بشري حقوقو د پالیسۍ څخه په سنا کې ملاتړ کړی و.

د تایوان په اړه به هریس د بایډن پالیسي تعقیبوي او هغه دا چې له تایوان څخه به دفاع کوي او له دغې جزیرې سره به خپلو نظامي همکاریو او مرستو ته ادامه ورکړي.[22]

لنډه دا چې د چین په اړه د کاملا هریس په نسبت د ټرمپ پالیسي سخته ده.

## پایله

د افغانستان په اړه ټرمپ او هریس دواړه یوازې د وتلو پرمهال د امریکا متحده ایالاتو پر ناکامۍ غبرګدلي او یو او بل یې ملامت کړي دي، د افغانستان د راتلونکي په اړه دواړو کومه څرګنده پالیسي نه ده بیان کړې.

په منځني ختیځ کې دواړه د اسرائیلو دفاع کوي، خو د فلسطین په اړه د ټرمپ پالیسي نسبت هریس ته جدي او سخته ده، د ایران په اړه د ټرمپ پالیسي نسبت هریس ته سخته ده، د سعودي عربستان په اړه ټرمپ پالیسي نسبت هریس ته نرمه ده او دواړه په منځني ختیځ کې د ایران نیابتي ډلو پر وړاندې سخت دریځ لري.

د روسیې- اوکراین د جګړې په اړه ټرمپ وایي چې پر اوکراین به بلاعوضه مرستې بندې کړي او دوی به اړ کړي چې د سولې ترون لاسلیک کړي او دا جګړه ختمه کړي، خو هریس وایي چې دوی به تر اخیره د اوکراین څخه دفاع او ملاتړ کوي او بلاعوضه مرستو ته به ادامه ورکړي.

د چین په اړه د ټرمپ دریځ نسبت هریس ته ډېر سخت دی، ځکه ټرمپ که بریالي شي، نو یوځل بیا به له چین سره سوداګریزه جګړه پیل کړي او هریس سره له دې چې د چین په اړه یې بهرنۍ پالیسي څرګنده نه ده، خو داسې ویلای شو چې نوموړې به د جوبایډن بهرني سیاست ته ادامه ورکړي.

## وړاندیزونه

۱- ټرمپ او هریس دې د افغانستان په اړه خپل بهرنۍ سیاست څرګند کړي.

۲- که هر نوماند بریالی کېږي باید هڅه وکړي چې د افغانستان اسلامي امارت سره د رسمیت پېژندنې، اساسي قانون، بشري حقوقو او رسمي حکومت رامنځته کېدو په اړه ژر خبرې وکړي او دغه ستونزې ته دې د پای ټکی کېږدي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۳- د افغانستان اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې په امریکا متحده ایالاتو کې د نوي حکومت په رامنځته کېدو سره دې ورسره اړیکې ټینګې کړي او د تقابل پرځای دې ورسره له تعامل څخه کار واخلي.

## مأخذونه

---

[1] The United States Government, “Electoral College”, 2024, Access link: https://www.usa.gov/electoral-college

[2] 270 To win, “2024 Presidential Election Interactive Map”, 2024, Access link: https://www.270towin.com/

3 National Archives, “Electoral College”, 2023, Access link: https://www.archives.gov/electoral-college/about

4 Bojang AS, “The Study of Foreign Policy in International Relations”, Journal of Political Sciences & Public Affairs Vol 3, Issue 4, Oct 18, 2018, P. 2. Access link: https://www.longdom.org/open-access-pdfs/the-study-of-foreign-policy-in-international-relations-2332-0761-1000337.pdf

[5] Ibid, P. 7.

[6] Emma Rothberg, “Kamala Harris”, Access link: https://www.womenshistory.org/education-resources/biographies/kamala-harris

[7] History.com Editors,” Donald Trump”, 2023, Access link: https://www.history.com/topics/us-presidents/donald-trump

[8] Elizabeth Threlkeld and others, “Foreign Policy Priorities in the September 2024 Presidential Debate”, Stimson Center, SEP 2024, Access link: https://www.stimson.org/2024/presidential-debate-harris-trump-foreign-policy-priorities/

[9] Zachary B. Wolf, “Afghanistan withdrawal also haunts Trump, according to a general who worked for him”, CNN, AUG 2024, Access link: https://edition.cnn.com/2024/08/26/politics/afghanistan-trump-biden-harris-what-matters/index.html

[10] Scott Worden. Two Years of the Taliban’s ‘Gender Apartheid’ in Afghanistan, United States Institute of Peace, September 14, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/09/two-years-talibans-gender-apartheid-afghanistan

[11] Kate Bateman. A Shift toward More Engagement with the Taliban? United States Institute of Peace, October 25, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/10/shift-toward-more-engagement-taliban

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[12] Brian Katulis and Athena Masthoff, "Comparing Harris and Trump on Middle East Policy", Middle East Institute, Sep 27, 2024, Access link: https://www.mei.edu/publications/comparing-harris-and-trump-middle-east-policy
[13] Ibid.
[14] Angela Stent, "How would Trump and Harris handle the Russia-Ukraine war?", Brookings Institute, October 1, 2024, Access link: https://www.brookings.edu/articles/how-would-trump-and-harris-handle-the-russia-ukraine-war/
[15] Crisis Group," The Next U.S. Administration and China Policy", 17 October, 2024, Access link: https://www.crisisgroup.org/united-states/united-states-china/010-next-us-administration-and-china-policy
[16] Avery Lotz," Trump's tariffs: How they work, and who would pay", Axios, Sep 27, 2024, Access link: https://www.axios.com/2024/09/28/how-tariffs-work-trump-china
[17] Erica York," Tariff Tracker: Tracking the Economic Impact of the Trump-Biden Tariffs", Tax Foundation, 2024, Access link: https://taxfoundation.org/research/all/federal/trump-tariffs-biden-tariffs/
[18] Crisis Group," The Next U.S. Administration and China Policy", Op. Cit.
[19] Council on Foreign Relations," Foreign Policy Priorities China", 2024, Access link: https://www.cfr.org/election2024/candidate-tracker/china
[20] Yuchen Li, "Trump vs. Harris: Who does China prefer in the US election?", DW, 2024, Access link: https://www.dw.com/en/trump-vs-harris-who-does-china-prefer-in-the-us-election/a-70599798
[21] Sim Tze Wei," What a Harris-Walz victory might mean for US-China relations", Think China, 2024, Access link: https://www.thinkchina.sg/politics/what-harris-walz-victory-might-mean-us-china-relations
[22] Ibid.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)